# د ډیپلوماټ ځانګړتیاوې

Download from:aghalibrary



ژباړن: جمیل وقار

د ډیپلوماټ ځانګړتیاوې

جمیل وقار

# د ډیپلوماټ ځانګړتیاوې

لیکوال: وحید جمال جبارخېل

ژباړن: جمیل وقار

Download from:aghalibrary

بسم الله الرحمن الرحیم

**Download from:aghalibrary**

## د کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم: د ډیپلوماټ ځانګړتیاوې

لیکوال:وحید جمال جبارخېل

ژباړن: جمیل وقار

ډیزاین: ژباړن

د پښتی ډیزاین: اسد افغان

خپرونکي: کلیوال ادبي ملګري ټولنه/غزني

چاپ کال: ۱۳۹۳ لمریز

اړیکي شمېره: 009 375 794 (0)

چاپ شمېر: 1000 ټوکه

**د کتاب ټول حقوق د کلیوال ادبي ملګري له ټولنې سره خوندي دي**

**Download from:aghalibrary**

## د يوه ډيپلوماټ ځانګړتياوې

په اوسنۍ نړۍ کې چې په کومه اندازه د ډيپلوماسي ارزښت زيات شوی، په هغـومره کچــه د ډيپلوماټــانو د ځــانګړنو پــه اړه زيــاتې خــبرې کېــږي او مسوولیتونه او ځانګړتياوې يې هم تر بل هر وخت ښې روښانه شوې دي.

د نړيوال نظام نوې بڼه په داسې شکل ده چې ډيپلوماټان د هېـواد برخليـک ټاکلو اساسي برخه ګڼل کېږي او د هغوی خوی، چلند، ځانګړنې او وړتيـاوې له دې امله د ارزښت وړ دي چې پـه اوږو بـار دنـده پـه ربښـتينې ډول سر تـه ورسوي او له ياد بهير ځخه ځان په برياليتوب وباسي.

که چېرې ډيپلوماټ دغه ټکي په غور کې ونيسې او پـه بشـپړه توګـه پاملرنـه ورته وکړي، هېواد به د سولې، خير او پرمختګ پر لور روان کـړي، خـو د نـه پاملرنې په صورت کې به نه يـوازې هېـواد تـه زيـات زيـان واړوي، بلکـې پـه خپلې ځېرې به هم دومره تور داغونه ووهـي چـې سـپينول بـه يـې بيـا کلونـه وخت ونيسي.



Download from:aghalibrary

ډیپلومات په ماموریتي ځای کې د هېواد، ملت او دولت استازیتوب کـوي. د ده هره کړنه د درست ملت او دولت انځور وړاندې کوي؛ نو له هـم دې املـه باید په تګ او کړنو کې تر خپله وسه محتاط واوسي او له پوره غور څخه کـار واخلي.

زړور، چالاکه او تجربه لرونکی ډیپلومات د خپل هېـواد درنښـت او ارزښـت د پردیو په مخ کې لا ارزښتمن او لوړوي، خو کمزوری او بې تجربې ډیپلومـات د دې ډول ارزښتونو په ارزښت نه پـوهېږي، د هېـواد، ملـت او دولـت اقتـدار ورته مهم نه دی، د هغوی ګټه او بریا د ځان ګټه نه بولي، بلکې د ځـان پـه مقام او سرلوړي پسې منډې وهي.

د ځواکمن او کم ځواکه ډیپلومات کړنې په هغومره اندازه خپلو هېوادوالـو تـه نه مالومېږي، په کومه کچه چې د پردي هېواد وګړي پـرې قضـاوت کـولای شي. له همدې امله نوموړی باید په خپلو ټولو اعمالو کنټرول ولـري او خپلـو ټولو کړو وړو ته ځير واوسي.

په دې اړه یو نوموتی ډیپلومات وایي: ((د سفیر په غـوراوي کـې زیـات ځـیر واوسه. ځکه سفیر د لېږونکي په پوهاوي دلالت کوي))

همدارنګه یـې پـه بـل ځـای کـې بیـا داسـې ویـلي: ((سـتا لېږونکـی، سـتا د پوهاوي او هوښیارۍ پایله ده.)

**Download from:aghalibrary**

# د ښه ډيپلوماټ ځانګړتياوې

**۱- فکري ځواک:**

ځواکمن او غښتلی فکر په دې سربېره چې ډيپلوماټ ته د ورسپارل شوې دندې په ترسره کولو کې مرسته کوي؛ د جوهري ځانګړنې په شکل يې نورې ځانګړنې هم په پوره ډول تر خپل سيوري لاندې راولي.

فکر ذاتي امر دی، د يوه هېواد د ډيپلوماسي اداره به ټول هغه څه چې د ډيپلوماټ لپاره اړين دي چمتو کړای شي، خو هيڅ کله به و نه شي کولای د ځينو عنوانونو او لقبونو په څېر هغه چاته چې له فکري او استعدادي قوې بې برخې وي، دا ارزښتناکه ډالۍ ورکړای شي.

**۲- سياسي حس:**

ډيپلوماټيکي دنده بايد هغه څوک پر مخ بوځي، چې ذاتاً په سياسي چارو برلاسی وي او د سياسي فعاليتونو وړتيا او لياقت ولري. سياسي حس د



Download from:aghalibrary

وګړي داخلي خصلت دی، له همدې امله په لوړه کچه ذاتي چارې د بېلابېلو وګړو په نزد توپیر کوي.

د یوه هېواد د ډیپلوماسي اداره باید د ډیپلوماټانو د جلب او جذب په موخه د هغوی ځانګړنو ته په ځیر پاملرنه وکړي، هر هغه څوک چې د پورته یادو شویو ځانګړنو درلودونکی وي، په سیاسي پوهې او سیاسي مسایلو اړوند ژوره مطالعه ولري، ډیپلوماټیکي بهیر ته دې ور ګډ شي. د دا ډول ځانګړنو درلودونکي ډیپلوماټان کولای شي، خپله دنده له کوم خنډ او ستونزې پرته پر مخ بوځي.

خو؛ هغه ډیپلوماټان چې سیاسي حس و نه لري او ذاتاً یې سیاسي خویونه په وجود کې موجود نه وي، په ډیپلوماټیکي بهیر کې به د دندې پر مخ وړلو په وخت کې له اساسي او اصلي عنصر څخه به بې برخې وي.

### ۳- د څېړنې او شننې قوه:

د هر ډیپلومات مهارت او لیاقت په دې کې نغښتی چې د منظم فکري ځواک د درلودلو سره سره، په سړه سینه او پراخه حوصله د پېښو جلاوالی او تفکیک وکولای شي او یو له بل سره یې اړیکې په ګوته کړي، خو دا هغه وخت شونې ده، چې ډیپلومات د قوي څېړنې او شننې ځانګړنه ولري.

دی د خپلې دندې د اهمیت په خاطر نه باید په سرسري قضاوتونو بسنه وکړي. هغه ته ضرور ده، چې په ډېر ځیر، اوچت او تېز فکر او سوچ د پېښو لامل او علت پیدا او د اړوندې سکالو (موضوع) په تړاو خپله شننه او څېړنه ترسره کړي. له دا ډول څېړنیزو مسائلو سره د ډیپلوماټانو مخ کېدل حتمي

Download from:aghalibrary

وي، ځکه باید په یاده برخه کې د ښې پوهې، ژور او تېز فکري استعداد او تجربې لرونکي وي او څېړنه او شننه يې په فعالیتونو کې د سر ځای ولري.
د مقابل لوري باور او قناعت ترلاسه کول او خپلو ټاکلو موخو ته د رسېدو لپاره هم پوخ استدلال، ځواکمن فکر، پر ځای تحلیل او ژورې څېړنې ته اړتيا ده. دا ټکي د ډيپلوماسي له ارزښتناکو ابزارونو څخه شمېرل کېږي.

**۴- پر ځان باور او د نوښت قوه:**

نوښت او پنځول صنعتي کړنه ده چې له ډيپلوماټ سره د کاري ساحې په تنګو او سختو لارو کې ملګرتیا کوي او د کار په ستونزمنو شېبو کې يې د بریالیتوب تر کچې رسوي.
له ډیپلوماټ څخه د ځینو غوښتنو په وخت کې باید دی ځان او د ماموریتي هېواد حالاتو ته پام وکړي، له فکري او عقلي قوې څخه په ګټې اخیستنې د خیر، ربښتینولۍ او حق لار غوره او په بیان او افشا کولو کې ځنډ و نه کړي.
په بل عبارت، ډیپلوماټ باید د خپلو نظرنو په وړاندې کولو کې د سیاستمداري او سیاستګزاري په امرونو تګ وکړي، خو دا هغه وخت امکان لري چې دی پنځوونکی او نوښتګر و اوسي.
د دې ترڅنګ ده ته اړينه ده چې په خپل نفس د واک لرلو له لارې ټول شکونه له منځه یوسي او بې باوري او عقده ګري يوې خوا ته پرېږدي.



Download from:aghalibrary

ډیپلوماټ چې د مبهمو خطرونو د ویرې له امله د ارزښتناکو او ضروري وړاندیزونو او موادو په وړاندې کولو کې ځان تېرباسي، په باور سره ویلای شو چې د دندې په پر مخ وړلو کې بې غوري کوي او ځان یې تېر ایستلی.
همدا رنګه که د هېواد د خیر لپاره په کوم وړاندیز پوهېږي، نو له کوم چا څخه له ډار او وېرې پرته یې باید وړاندې کړي؛ که یې وړاندې نه کړي، د غور پر ځای به یې بې غورې کړې وي.
څنګه چې یې ویلي ((کوم ډیپلوماټ چې د نده یې یوازې د لیکونو تبادله وي؛ د هېواد لپاره یې د ګوانښونو سرچینه ګڼلای شو.))
پر ځان باور تر ډېره د انسان دنني احساس دی، خو ځینې نور لاملونه، لکه د هېواد په دننه کې له ځینو نفوذ لرونکیو کړیو سره اړیکې یې هم په لړ کې راځي.
هغه ډیپلوماټ چې بدګمانه او شکي وي، هر شېبه یې کېدای شي کړنې تر سوال لاندې راشي او یا یې فعالیتونو ته د شک په سترګه وکتل شي. دا ډول وګړي هیڅ کله په خپل نفس واک او کنټرول نه شي ټینګولای.

**۵- لرلید:**

د ډیپلوماټ د ځانګړنو له ډلې یوه چې زیاته د ارزښت وړ او د ده پر شخصیت جوړوونې مخامخ سیوری پرې باسي؛ لرلید دی.
دی نه یوازې دا چې د پېښو شاو خوا برخو ته پام وکړي، بلکې له روانو حالاتو سره د مخ کېدو په صورت کې باید د پېښې نور اړخونو ته هم پوره پاملرنه وکړي او لرلید له پامه و نه غورځوي.

**Download from:aghalibrary**

د ډيپلوماټ دا ځانګړنه به د دې لامل وګرځي چې په ورځنيو چارو او پلانونو کې له زيات غور څخه کار واخلي، بې پروايي څنډې ته پرېږدي، ګواښونه شنډ کړي او په سيستماټيکه توګه ښه لرليد ولري.
دا ډول وګړي پـه بېړه پرېکړه نـه کـوي، تصـميم پـه غـور نيسي، د سـکالو (موضوع) په پيل کې لا ټول اړخونه سره پرتلـه کـوي او لـه ګـواښ او بېـړې څخه د ځان ساتنې په خاطر د ښه او غوره پروګرام پر پلي کولـو فکـر کـوي. ياد کسان په دومره کچه محتاط وي چې هيڅ کله او په هيڅ ډول نه غواړي ځان او هېواد ته يې ګواښ پېښ شي.

**٦- صبر او حوصله:**

ډيپلوماټان بايد د لوړې حوصلې او پـوره زغـم خاونـدان وي، ځکـه د همـدې ماموريت فعاليتونه معمولاً په اوږده موده کې پايلې ته رسېږي.
په اوسنۍ نړۍ کې نړيوالو سياسي اهدافو ته د رسېدو په موخـه ضرور نـه ده چې ډېره بېړه ولرو، ځکه ډيپلوماسي د نظامي کړنو خلاف، سمدستي برى له ځان سره نه لري، بلکې تر هر څه زيات د ملي ګټو په تـداوم او روانتيـا فکـر او ټينګار کوي.
ډيپلوماټ بايد تل، په ځانګړې توګه د خبرو او وينا کولو په وخت کې له ښـې حوصلې برخمن وي او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ضرور نه ده چې له بېـړې کار واخلي.



Download from:aghalibrary

لکه چې ویلي یې دي: ((د صبر او انتظار د لارې پېژندنه، د بریالیتوب تر کچې کمه نه ده. هغه څه چې پرون ناممکن او نن ستونزمن دي؛ سبا به یې په خوښۍ او پوره رضایت ومنې.))

**۷- په احساساتو برلاسي:**

ډیپلومات باید د نفس واک په خپل لاس کې ولري، هیڅکله هم احساساتي نه شي، خپله حوصله له لاسه ور نه کړي او له بې ځایه غوسې څخه ځان وژغوري. دی باید له بېلابېلو مسایلو سره د مخ کېدو په صورت کې پر خپلو احساساتو کنټرول وساتي او په سړه سینه او پراخه حوصله یې حل کړي.

هر هغه ډیپلومات چې پوهېږي، کړنې یې د هېواد د برخلیک ټاکلو په موخه دي، پر ځان تېل شوي احساسات له منځه وړي او نورو ته هم هیڅ وخت د دې چانس نه ورکوي چې له احساساتو یې بې ځایه او ناوړه ګټه پورته کړي.

احساساتي کېدل د ډیپلومات د ضعف او کمزوري لوی ټکي دي چې په نه کنټرول یې مقابل لوری خوشحاله کېږي او د بریالیتوب کرښې ته ځان نږدې کوي، ځکه په همدې وخت کې د ډیپلومات حساسیتونه روښانه کېږي او نورو ته د دې چانس برابروي، چې په رازونو یې ځان پوه کړي.

دا کمزوري ټکي د ډیپلومات عصبي ستونزي په ګوته کوي.

مقابل لوری په مناسب ځای کې دې حساسیتونو ته لمن وهي او ورڅخه د ځان پر ګټه کار اخلي.

احساسات هغه وخت کې راپارېږي، چې ډیپلومات خپلو خبرو او کړنو ته متوجه نه وي او په ګمان یې چې له خپلو باورونو او خبرو څخه ننګه کوي،

خو خبره بل ځای ځي او مقابل لوری په ډېرې اسانۍ تـرې د ځـان پـر ګټـه کار اخلي.

په دې اړه يوه زاړه ډيپلومـاټ داسـې ويـلي: ((سـمه ده چـې ډيپلومـاټ بـه د خـبرو کولـو او يـا هـم د ماموريـت پـه ځـای کـې ډېـرې تونـدې، بـې ځايـه، غيرشعوري او د ده د خوښي خلاف خـبرې اوري، خـو پـه داسـې حالـت کـې بريالی ډيپلوماټ هغه دی چې له غوسـې او کرکـې پرتـه پـه احساسـاتو لاس بری وي او د مخاطب لوري بې منطقه خبرو په غبرګون کـې د منطقـي او پـر ځای ځواب په لټه کې شي. ځکه همدا غوسه او قهر د يوه وګړي د فولاد په څېر کلک هوډ او عزم کمزوری کوي او د وړاندې تللو پـه مـخ کـې يـې خنـډ ګرځي.

يو متفکر هم په دې اند دی چـې غوسـه د انسـان عـزت لـه منځـه وړي او د ناکامي پايله ده.

ډيپلوماټان بايد پر خپلو اعصابو د واک لرلو ترڅنـګ نـرم مزاجـه او لـه خلکـو سره په چال چلند کې بې جوړې وي، تر څو وکولای شي پـه وريـن تنـدي او خوښې څېرې د ناپوهو او نالوستو خلکو پر وړانـدې خپلـه عـاجزي او حوصـله وښيي.

**۸- هوښياري او رازساتنه:**

په دې کې شک نشته چې ډيپلوماټان بايد هوښيار، ځيرک، راز سـاتونکي او کنجکاوه خلک وي. دوی بايد زيات څه واوري او لږ څه ووايي.

ډیپلوماټ د ځای مناسب والي ته په کتو، باید کله راز ساتونکی او کله هم مخامخ ځان صادق او رښتینی وښيي. کېدای شي په دنده کې له زیاتو داسې رازونو سره مخ شي چې د افشا په صورت کې د هېواد بهرنۍ اړیکو، ملي او بین المللي ګټو او ملي حاکمیت ته زیان واړوي. نو ده ته په کار ده چې راز د راز په شکل د زړه په دننه کې خوندي او داسې وړتیا له ځانه وښيي چې په چټکۍ یې ټاکلو موخو ته ورسوي.

لکه څنګه چې یوه ډیپلوماټ په دې اړه ویلي دي: ((سفیر هغه لوبغاړی دی، چې څېره یې د ننني وضعیت له خاصیتونو سره ډېره همغږي نه وي، دا په دې چې مخاطبانو ته یې په اړه د حدس او ګومان زمینه برابره شي او هم څوک د ده کمزوري په ځینو برخو کې درک نه کړی شي. هغه پوهېږي چې له کوم ډول عمل سره خپلو اړتیاوو او هدفونو سره همغږې پایله ترلاسه کولای شي.))

د ډیپلوماټ د هوښیاري او فزیکي زور په نسبت عقلي هغه ته لومړیتوب ورکول له مثبتو پایلو څخه یوه پایله دا هم کېدای شي چې د رفتار، کړنو او خبرو کولو په وخت کې د مخ پر وړاندې تللو لپاره د منطقي او پر ځای دلایلو او کلیمو په لټه کې شي او له شته فرصت څخه په ګټې اخیستنې په مقابل لورې ځان غښتلی ثابت کړي. دی باید له بې ځایه خبرو ځان څنډې ته او له مداخلي یې ډډه وکړي. ډیپلوماټ ته ضرور نه ده چې په بحثونو کې زیات ټینګار وکړي، داسې نه چې د زیات ټینګار او سر ټمبګۍ پایله یې د رازونو له مخې پردې پورته کولو ته اړباسي.

په ټولیزه توګه ویلای شو چې بریالی او ښه ډیپلومات هغه کس دی، چې تر نیمایي زیات سیاسي او ډیپلوماټیکي رازونه قبر ته یوسي.

**۹- په سياسي او ټولنيزو مسايلو کې له ساده فکري څخه ډډه:**

سره له دې چې ډیپلومات خپل لیدلوری او لرلید لري، ترڅنګ یې باید د نورو په نظرونو او لیدلورو هم خپل سیوری وساتي.

نو؛ وچ مغزی او د ساده فکر خاوند ډیپلومات د دې وړتیا او توان نه لري چې ځان له ښو ډیپلوماټانو سره په یوه کتار کې راولي او دا وړتیا هم په ځان کې نه محسوسوي چې د نورو پر ځای ځان فرض کړي.

د دې ترڅنګ ډیپلوماسي له مطلق دریځي او تنګ نظري سره هم په ټکر کې ده، ځکه باید ډیپلوماټان له دې دواړو څخه ځان وساتي.

ځینې ډیپلوماټان د نورو افکار په واقعیت نه ولاړ ښیي، په داسې حال کې چې خپلو نظریو ته فلسفي او علمي رنګ ورکوي. دا ډول ډیپلوماټان فکر کوي، هر هغه څه چې دی یې ترسره کوي باید سم، روا او جواز ولري. دا ډول تفکر او کړنې دی په ناپوهۍ او جهالت کې ساتې او په ترڅ کې به یې په ماموریتي هېواد سربېره د خپلې ټولنې له سیاسي او ټولنیزو مسایلو سره نااشنا او له پيژندنې محروم کړي.

**۱۰- ټولنيزوالی:**

ډیپلوماټان باید د یوازېتوب له رنځ څخه ځان وساتي، غوره یې نه کړي او په ټولنیزه فضا کې ژوند وکړي.

دوی باید د ټولنې له بېلابېلو قشرونو سره په اړیکه کې و اوسي او ورسره ټولنیز ژوند تېرول خپل غنیمت وګڼي.

یو بل څه چې په ډیپلوماټیکي فعالیتونو کې ارزښتناک او د ارزښت وړ دي، ډیپلوماټان باید د کره اطلاعاتو په راغونډولو کې کوټلي ګامونه پورته کړي. بې له شکه د اطلاعاتو او مالوماتو را غونډول د یوه ډیپلومات له اړینو کړنو څخه شمېرل کېږي، خو دا ټول هغه وخت یوې سالمې پایلې ته رسېږي چې د نوموړي اطلاعاتي سرچینې له بېلابېلو لورو او د پوره کره‌والي پر بنسټ ولاړې وي.

ډیپلومات باید وخت پر وخت د مختلفو هېوادونو له ډیپلوماټانو سره لیدنې کتنې وکړي، ترڅو یې په ټولنیز ژوند اغېز ولري. همدارنګه باید په ځینو ناستو او غونډو کې فعال ګډون وکړي، تر څو د نورو هېوادونو او د ټولنې د مختلفو برخو د وګړو له کلتور، رسم او رواج سره اشنا شي.

ډیپلوماټان د دې ترڅنګ چې د ماموریتي هېواد له چارواکیو سره لیدنې کوي، باید د سیاسي ګوندونو له مسوولینو، مدني او غیرمدني ټولنو، ورځپاڼه لیکونکیو، د هېواد له نظامي مسوولینو، صنعتګرانو، د پوهنتون او ښوونځیو له استادانو، زده‌کړیالانو او حتا د اړوند هېواد له عامو وګړو سره په اړیکه کې و اوسي.

ډیپلوماټان باید د اړیکو په ارزښت او له ملي ګټو څخه د ننګ، ساتلو او مخ پر وړاندې د بېولو په رول پوه شي. له غرور، بې پامۍ او ځان ښوودنې څخه ډډه وکړي او د نورو وګړو انساني ارزښت ته پوره درناوی وکړي، تر څو له ټولنیز ژوند څخه لا ښه خوند واخلي، خو هغه کسان چې د پورته منفي

ځانګړتيـاوو خاونـدان وي، ډېـر کـم شـمېر خواخـوږي او ملګـري بـه ولـري، فعاليتونه به يې ټکني وي او په ډېره اسانۍ به هر څه له لاسه ورکوي.
که چېرې د يوه هېواد په نظام کې ځان غوښتونکي کسان پـر دنـدو ګـمارل شـوي وي او د ځـان غوښـتنې کلتـور پکـې حـاکم وي، د يـادو هېوادونـو د ډيپلوماسي اداري يې نه بايد تر سيورې لاندې راشي، بلکې دوی ته پـه کـار ده چـې داسـې وګـړي پـه دنـدو وګـماري چـې ټـولنيز ژونـد يـې کـړی وي او ترڅنګ يې د بېلابېلو هېوادونو د وګړو له کلتور سره اړيکې ټينګې کړې وي.

## ۱۱- په نورو د نفوذ او اغېز ساتلو وړتيا:

د نورو هېوادونو له ډيپلوماټانو سره د اړيکو د ټينګښـت تـر څنـګ، ډيپلومـاټ بايـد پـه ټولنـه کـې لـه پـراخ نفـوذ څخـه بـرخمن و اوسي. نومـوړی بايـد د ارواپوهنې او تېزهوښي له لارې د ټولنې پر فرد فرد د نفوذ او اغېز لار پيـدا او د غوښتنو پر بنسټ ورسره چال چلند وکړي.
يا په بله وينا، ډيپلوماټ بايد د اروا پوهنې په بارکيو پوه او د ژبې لـه اشـارو او مخففاتو څخه په سالم ډول تعبير واخلي.
لکه چې يوه پخواني ډيپلوماټ ويلي: ((ښه وينـاکوونکی او ټـولنيز ډيپلومـاټ بايد زيات کنجکاو او د تېز فکر خاونـد وي، تـر څـو وکـولای شي د انسـانانو افکار پـه ښـه ډول درک کـړي او د هغـوی لـه کـوچني خوځښـت او سـياسي بدلون څخه په ګټې اخيستنې يې احساسات را وپاروي.))

د يو چا په دروني صفتونو او خصلتونو پوهېدل دومره اسانه خبره نه ده، زيات مهارت غواړي او د ارواپوهنې د زده‌کړې کچه یې باید ټیټه نه وي، خو که ډیپلومات په فطري ډول په نورو د نفوذ او اغېز وړتیا ولري، په خورا اسانې طریقې به پر نورو نفوذ پیدا کړي او تر خپل تاثر لاندې به یې راولي.

د دې ترڅنګ چې ډیپلومات له ځینو کسانو سره پېژندګلوي لري، باید په داسې بڼه خواخوږي ورسره وښیي، چې په منځ کې یې د باور فضا رامنځ ته شي او په مناسب وخت کې له یادې ملګرتیا څخه ګټه پورته کړي.

**۱۲- مېلمه پالنه:**

مېلمه پالنه د ډیپلوماسي له هغو ارزښتناکو وسیلو څخه شمېرل کېږي چې کولای شي په مناسب وخت کې د ډیپلوماټانو لپاره ډېرې ارزښتناکه شېبې برابرې کړي.

ډیپلومات باید د خوښۍ په مراسیمو، مېلمستیاو او دې ته ورته نورو محفلونو کې فعال ګډون وکړي او د ورته مراسیمو په جوړولو کې مخکښ و اوسي. په دې سربېره باید د کوربتوب او مېلمتوب تر منځ له ځانګړو اړیکو څخه ګټه پورته کړي. نوموړی باید سخي او زیات وخت د مېلمنو پالنې ته ځانګړی کړي.

د مېلمنو د پالنې، د هغوی د خوښ ساتلو او له دې لارې د رسمي اړیکو د ټینګولو لپاره ډیپلومات ته اړینه ده چې مسلکي، په کار پوه او تجربه لرونکی اشپز پیدا او په دنده یې وګماري. د یاد شویو ځانګړنو خاوند اشپز تل د اړیکو په رغولو او ټینګولو کې ډېر مهم رول لوبولای شي.

**۱۳- غټه تمه:**

لوړ نظري، سرلوړي او د ډيپلوماټيکي تشريفاتو مراعات د هېواد او ډيپلومات د عزت ساتلو ضمانت کوي.

ډيپلومات بايد د ماديات پر وړاندې د ډکو سترګو او ماړه زړه درېځ غوره کړي، ترڅو پردي وګړي پوه شي، چې هېواد يې له هر څه برخمن او بې غوښتنو دی. د ډيپلوماټانو وړانديزونه او غوښتنې بايد له هر ډول بخل، تمې او چاپلوسي څخه پاکې وي.

په دې اړه يوه پخواني ډيپلومات ويلي:

((که چېرې په يوه ډيپلومات کې د وقار، هوښيارتوب او زړورتيا ځانګړتياوې موجودې نه وي او د هېواد ډيپلوماسي اداره يې د دښمن پر وړاندې راميدان ته کړي، په دې کړی کې به دومره سرورکی شي، چې خپل لېږونکی به ذليله، کمزوری او خوار وښيي.))

پورته يادو شويو ټولو ټکو ته په کتو سره ويلای شو چې ډيپلومات بايد له لوړې تمې څخه برخمن څوک و اوسي او د قوي ملاتړ لرلو ترڅنګ په لګښتونو کې بخل و نه کړي.

**۱۴- له ډيپلوماسي سره يې کورنۍ اړيکې:**

ډيپلومات هغه څوک دی چې ډېره حساسه او ارزښتناکه دنده پر غاړه لري او ډېر وخت د يوه ملت د برخليک ټاکلو واک ورسره وي.

ډيپلوماټيکي دنده د نورو عادي دندو په څېر نه ده چې د ټولنې هر لوستى وګړى دې په کې دنده واخلي. په دې اداره کې بايد داسې وګړي پر دندو وګمارل شي چې نه يوازې دوى، بلکې کورنۍ يې هم له درانده مقام څخه برخمنه وي ځکه چې د وګړي د روحياتو او افکارو اکثره برخه په کورني چاپېريال کې جوړه شوې وي او لا هم جوړېږي.

که چېرې ډيپلوماټ په نيکې کورنۍ پسې تړاو ولري او شخصاً نوموړى هم د نېکي پر دوام ټينګار وکړي، د هېواد لپاره به د ډېرو مهمو برياوو ګټونکي وي.

نوموړى بايد د نېکو او ښو وګړو له منځ څخه يو وي او په داسې کورنۍ پسې اړه ولري چې په دنده يې وياړ وکړي او په کارونو کې ورسره مرسته وکړي.

لکه څنګه چې ډيپلوماټ له هېواد څخه بهر د هنداره شکل لري، همدارنګه يې د کورنۍ هر غړى د شخصيت ښکارندويي کوي.

په کومه اندازه چې د ډيپلوماټ د کورنۍ د غړو استعداد لوړ وي، په هغومره کچه د نوموړي حيثيت، نفوذ او اعتبار لوړېږي، خو که يې د کورنۍ شاليد او کړنې د ډيپلوماټيکي اصولو خلاف وي، هم به په ډيپلوماټ او هم به يې پر هېواد منفي سيورى خپور کړي.

**۱۵- نېک اخلاق:**

نېک او غوره اخلاق د ډيپلوماټ شخصيت ته لويي ورکوي او اعتبار يې زياتوي.

په ماموريتي هېواد کې له خپلو هېوادوالو سره ښه سلوک، په ورين تندې يې پوښتنو ته ځواب ويل او ستونزو ته يې د حل لارو لټول هغه څه دي چې د ادارې ارزښت ورسره لوړېږي او د خلکو اعتماد پرې څو چنده زياتېږي.
په ډيپلوماسي کې نېک اخلاق په دومره کچه د ارزښت وړ دي چې ډېرو ستونزمنو او ناشونو کارونو ته د شوني بڼه ورکوي او انسان په فطري ډول تر اغېز لاندې راولي.
نېک اخلاق هغه ګټونکی معيار دی چې د هېواد د ډيپلوماسي اداره يې د ډيپلوماټانو په ګمارلو کې استعمالوي.

## ۱٦- اروايي اعتدال:

سالم اروايي حالت د ډيپلومات په پرمختګ کې لوی لاس لري، فعاليتونه يې تر مستقيم اغېز لاندې راولي او فکر يې پر کړنو، رفتار او د خبرو پر سر حاکمت ته هڅوي، خو که ډيپلومات په اروايي کمزورتياوو او عقدو روږدی وي، شخصيت به يې له جدي ګواښ سره مخ وي او دنده به يې تر اغېز لاندې وي. همدا اروايي کمزورتياوې او عقدې د ډيپلومات په مخ کې لويې او پراخې ستونزې منځ ته راوړي چې د ژوند بېلابېلې وګړيزې او ټولنيزې برخې يې زيانمنوي.
همدارنګه پرېشاني او د دماغ کمزوري د همدې ناروغۍ له ډلې څخه ګڼل کېږي چې ډيپلومات يې بايد پر وړاندې مقاومت وکړي او ځان ترې لېرې وساتي.

اروايي ناروغي، د انسان په وجود کې ځينې نورې نښې نښانې هم پرېږدي، لکه: زړه تنګي، ناخوښي، ناارامي او بد ګماني چې له امله به يې د وګړي ورځنۍ چارې ګډوډې شي او د سالم فکر او سالم کار پر وړاندې به يې ستر خنډ وګرځي.

پورته يادې شوې بېلابېلې اروايي کمزورتياوې له ډيپلوماټيکي دندې سره په ټکر کې راځي او په دې بهير کې په اروايي ناروغيو اخته وګړي هيڅ کله نه شي کولای، نوښتګر او بريالي وګړي ثابت شي او له نورو سره منطقي اړيکې ټينګې او وپالي.

**۱۷- پر هېواد باور او ورسره د زړه له تله مينه:**

د زړه له تله له هېواد سره مينه او پکې د حاکم نظام منل او ورڅخه ننګه کول د ډيپلوماټ له ډېرو ارزښتناکو مسووليتونو څخه شمېرل کېږي.

د ډيپلوماټ د فکري برخې په اصلي څنډه کې د نورو اساسي ټکو ترڅنګ يو څه چې ډېر اړين او شتون يې حتمي دی، هغه دا چې دی بايد د هېواد حاکم نظام د حيثيت او اعتبار لوړولو په خاطر نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي او د زړه له کومې په خپل هېواد او پکې پر حاکم نظام باور ولري او د ملي موخو د لاس ته راوړلو په خاطر بايد بې ځايه شخصي غوښتنې پرېږدې او پر ځای يې د هېواد د ملي ګټو په اړه فکر وکړي.

سربېره پر دې چې دی هېواد ته ښه وفادار وګړی دی، بايد د هېواد ټولو امرونو ته تابع و اوسي او له خپل مهارت او نوښت څخه په استفادې يې ګټې وځېږي.

په هر حال، د هېواد د ډیپلوماسي اداره باید هغه وګړي پر دندو وګماري چې له ملت او هېواد سره د بې کچې مینې ترڅنګ د هېواد له نظام او فکري جوړښت سره یې د زړه له کومې ژمن و اوسي او ورسره د صمیمیت احساس وکړي.

**۱۸- کاري وجدان:**

ډیپلوماټ باید د هغه څه په اړه چې ترسره کول یې ورته اړین دي، د مسوولیت احساس وکړي او تر خپله وسه په کې منډه وکړي.
وجدان لرونکو ډیپلوماټانو ته له خپل کار او کوښښونو ماسیوا، بل هیڅ شی ارزښت او مخکښوالی نه لري. که یوه مسوولیت ته غاړه ږدي، تر هغو چې یې پای ته نه وي رسولی، ژمن پاتېږي او د یاد مسوولیت په اړه ځان مسوول ګڼې.
یوه، وړ او پر هېواد او ملت مین ډیپلوماټ پوهېږي چې د خپلې دندې، په ښه او بریالۍ توګه ترسره کولو او د هېواد د ستونزو د حل لپاره پر دنده ګمارل شوی؛ نو نه باید غرور، ځاني غوښتنې او مادي ګټو ته لومړیتوب ورکړي.
دی باید تل او په ځانګړې توګه د ماموریت په دوران کې د وخت په ارزښت پوه شي او د کارونو د لا منظم ترسره کولو لپاره دې کاري مهالوېش برابر کړي.

د ډيپلوماټ کاري وجدان بايد دا کليمې وريادې کړي چې ته د ملت ارزښتناک امانت او زه دې په کړنو څارونکی يم.

که د يوه ډيپلوماټ فکري ځواک د فولادو په اندازه کلک او د حالاتو پر وړاندې د قوي مبارزې وړتيا ولري، خو تر هغو پورې چې کوښښ او هڅې يې په عمل کې ځان و نه ښيي، برياليتوب او پرمختګ يې ناشوني دي.

**۱۹- د ټوليزې مرستې روحيه:**

د هېوادوالو همکارانو په اړه د ډيپلوماټ خواخوږي او ملګرتيا د دې لامل ګرځي چې د يوه او بل په خوا کې ودرېږي او په کارونو کې د يوه او بل لاسنيوی وکړي.

دا ګډې هڅې د ډيپلوماټ او د ده د ملګرو پر روحيه ډېر مثبت اغېز کوي او دې ته يې هڅوي چې له يوه او بل سره مرسته وکړي. له همکارانو سره نېکي او تواضع د خوښۍ فضا را منځ ته کوي او تر منځ يې د تفاهم لامل ګرځي.

ډيپلوماټ نه يوازې بايد ځان له ټوليزې مرستې او روحيې څخه برخمن کړي، بلکې د دندې په شاو خوا کې چې يې څومره همکاران کار کوي، ټولو ته د ټوليزې روحيې ذهنيت ورکړي.

**۲۰- له ځان ښودنې څخه ډډه:**

د ډیپلوماټ چاپلوسي او ځان ښودنه د یوه هېواد د ډیپلوماسي ادارې ته سخت زیانمنونکی ګذار دی چې په کلونو کلونو به ترې رنځ وینې او د نورو هېوادونو پر وړاندې به بې اعتماده او بې باوره وي.

د ډیپلوماټانو ځان ښودنه او چاپلوسي د دوی پر شخصیت او کړنو مستقیم اغېز شیندې او له خپل مسیره یې اړوي.

ډیپلوماټان چې هر څومره مثبتې ځانګړتیاوې او ښېګڼې ولري، خو د دې منفي او خراب خاصیت تر اغېز لاندې به وي، له انساني شخصت به لېرې وي او د وخت په تېرېدو که وغواړي او یا و نه غواړي له ډیپلوماټیکې دندې به ګوښه او د ډیپلوماسي له ادارې څخه به د تل لپاره وشړل شي.

د ښه او مخلص ډیپلوماټ انساني شخصیت، خبرې، لیکل او کړنې پر حقایقو ولاړې وي او په راپورونو او لیکونو کې تل واقعیتونو څرګندوي. که څه هم ډېر ترخه او په افشا کولو یې خطر پر غاړه اخلي، خو په ډېره مېړانه او زړوره توګه یې بیانوي.

ډیپلوماټ نه باید د لنډې او کم عمره لوېې او ځان ښودنې په خاطر درواغو ته مخه کړي، ځکه د حقیقت پایله یو وخت نه، یو وخت روښانه کېږي او په دا دومره موده کې چې یې د ډیپلوماسي ادارې ته په څومره اندازه ناسم او د درواغو پر بنسټ راپورنه او مالومات ورکړي، سخت او نه جبرانېدونکی زیان به یې ور اړولی وي او د دې ناسمو راپورونو له امله به په راتلونکې کې هم زیانمنېږي.

## ۲۱- د لیکلو او ویلو ځواک:

په منطق تللې، د ماهیت له اړخه غني او د الفاظو له پلوه رنګینې خبرې د هر ډیپلوماټ ابزاري وسیله ګڼل کېږي، چې تل یې له ستونزو ساتې او د اعتبار پخولو او مخ پر وړاندې تللو لپاره تر هرې بلې ځانګړنې ورته مثبته تمامېږي؛ خو که ډیپلوماټ بې منطقه، خبرې یې بې خونده او د اعتبار له اړخه کمزورې وي؛ د دې پر ځای چې له ستونزو یې خلاص کړي، لا یې په ستونزو کې لاس او پښې وربندوي.

ډیپلوماټان باید د خبرو فصاحت ته زیاته پاملرنه وکړي او مخاطبین د خبرو او وینا وو تر اغېز لاندې راولي. دوی باید په ډیپلوماټیکي میدان کې د مبارزې او وینا ترڅنګ په ټلوېزیوني او راډیویي مرکو کې هم یاد ټکي له پامه و نه غورځوي.

په دې سربېره چې نوموړی د وینا له مهارتونو او د خبرو له اوږدې ژبې څخه برخمن وي، خو بیا هم باید په پوره ډاډ او فکر خبرې وکړي، لار ورکې په کې نه شي او د نامناسبو کلیمو له استعمال څخه ډډه وکړي.

د ډیپلوماټانو د خبرو هنر باید دومره پیاوړی وي، چې خپله هره ترخه او تېزه خبره په پوره حوصله او سړه سینه ووایي او مثبت اغېز پر ځای پرېږدي.

په دې اړه د پخوانیو ډیپلوماټانو له ډلې یوه تن داسې ویلي:

((په نرمه او خوږه ژبه د ترخو او تندو خبرو وړاندې کول، د ډیپلوماټ له واجباتو څخه شمېرل کېږي.))

## ۲۲- ظاهري شکل:

ښايست او د انسان ظاهري ښکلا، د نورو په ذهن او فکر نېک اغېز لري، ځکه چې بشري نفس د جمال او ښايست لوړوالي ته زياته لېوالتيا لري او بې ارادې يې تر اغېز لاندې راځي. له همدې امله ډيپلوماټان بايد خپل ظاهري جوړښت ته زياته پاملرنه وکړي او له ښايسته او نېکې څېرې څخه برخمن کسان و اوسي.

په دې اړه يوه ډيپلوماټ ويلي:

((هغه ډيپلوماټ د ارزښت وړ دی، چې ښايسته او د ښې څېرې خاوند وي؛ نه هغه چې وچ کلک، ډنګر او بې نوره وي.))

دی همدارنګه وړاندې داسې وايي:

((انساني ارزښت په دوو کوچنيو څيزونو، يانې زړه او ژبې پورې تړلی.))

سربېره پر دې ډيپلوماټ بايد د ځان سينګار او د جامو پاکوالي ته زياته پاملرنه وکړي، ضرور بايد ياد ټکې په پام کې ونيسي- او ارزښت ته يې په کمه و نه ګوري. ځکه خلکو ته په ډيپلوماټيکي ژوند کې دا نقطې د ډيپلوماټ د شخصيت ښکارندويې کوي او بې غوري يې په حماقت او لنډ فکري دلالت کوي.

## ۲۳- ډيپلوماټيکي تشر يفات :

په اوسني عصر کې ډيپلوماټيکي تشريفات پېژندل شوی او منل شوی اصل دی، چې په ډيپلوماټيکي دنده کې بايد رعايت او د يادې دندې پرمخ وړلو کې بايد ترې کار واخيستل شي.

تشریفات معمولاً له عرف، نړیوالو مقرراتو او د ځینو نورو نړیوالو قوانینونو لـه ټولګې څخه منځ ته راځي.

د ډیپلوماټیکي تشریفاتو قانون د لومړي ځل لپار په ۱۸۱۵ زېږدیز کال کې د وینا په کنګره او د دویم ځل لپاره یو کال وروسته د اکسلا شاپل پـه کنګـره کې د ډیپلوماټیکي اصولو په چوکاټ کې ځای خپل کړ.

په اوسنې عصر کې تشریفاتي اصول د ډیپلومـاټیکي اړتیـاوو برابـري؛ د هغـو اسنادو په لړ کې راځي چې پـه پـوره مهـارت، کـره والي او د ښـې وړتیـا لرلـو سربېره منځ ته راغلي وي او ډیپلوماټان مکلـف دي، چـې د ورځنیـو کړنـو پـه ټولو پړاونو کې یې په پام کې ونیسي.

### ۲۴- کاري تجربه:

د بې تجربې او په ډیپلومـاټیکي مسـلک نـاپوه وګـړو لپـاره د ډیپلوماسـۍ پـه دسـتګاه کـې د دنـدې لاس تـه راوړل سـتونزمن کـار دی، خـو کـه چېـرې د واسطه بازي له لارې څوک دنده لاس ته راوړي، د دندې په اجرا کې بـه لـه ډول ډول ستونزو سره مخ شي.

ډیپلوماسي د داسې دندو په ډلبندي کې ځـای لـري چـې لـه تجربـه لرونکيـو کسانو پرته بل څوک نه شي کولای، یاد بهیر تر منزله ورسوي.

تجربه لرونکیو کسانو د کار په دوران او د تجربې د لاس ته راوړلـو پـه وخـت کې ډېرې ترخې او تندې ورځې تر شا پرې ایښې وي. ډیپلوماټان نه باید لـه یو لړ جزيي ستونزو سره د مخ کېدو په حال کې زړه مـاتي او زړه تـوري شي.

دوی باید له خپلو تجربو څخه د ځلېدونکي څراغ په توګه کار واخلي او د راتلونکیو تیارو په لېرې کولو کې ورڅخه ګټه پورته کړي.
د دربیمې نړۍ د ځینو هېوادونو د ډیپلوماسي اداري د بې تجربې ډیپلوماټانو د رقابت په مرکز اوښتې دي. دا وګړي له ناسمو او غیر سالمو لارو څخه په ګټې اخیستنې په دې بهیر کې ځان ځای پر ځای کوي او معمولاً د هر ډول انګازې څخه تش وي او د ډیپلوماسي په پرمختګ پسې سر نه ګرځوي.
د یادو هېوادونو بې تجربې ډیپلوماټانو ته په کتلو ویلای شو چې په تجربه لرونکیو ډیپلوماټانو پانګه، د هېواد ډیپلوماسي اداري ژوند او بریالیتوب ته کار دی.

**۲۵- له خپل هېواد سره بلدتیا:**

له ملي ګټو څخه ننګه او ساتنه د هر ډیپلومات د دندې، کړنو او مسوولیتونو په سر کې باید ځای ولري. نه یوازې ډیپلومات؛ بلکې د ټولنې هر وګړی چې ترڅو په بشپړه توګه د هېواد ګټې و نه پېژني، ملي ګټې نه شي پېژندلای.
نه یوازې دا چې ډیپلومات دې د هېواد د ګټو په پېژنده بسنه وکړي؛ هغه ته ضرور ده چې د هېواد له تدوین شوې ستراتېژي څخه په استفادې د هېواد د ګټو ټول اړخونه مطالعه کړي، و یې پېژني او په ورځینو چارو کې ورڅخه ګټه واخلي او په پام کې ونیسې.

نوموړی باید د هېواد د بهرني سیاست په موخو، د ډیپلوماسي په واکونو او پرنسیپونو د پوهېدو تر څنګ په دې هم ځان پوه کړي، چې له کومو لارو څخه په استفادې، خپله ډیپلوماتیکه دنده د بریالیتوب تر پولو رسولای شي.

هر هغه ډیپلومات چې د هېواد د کمزورتیا او ځواکمنتیا ټکي و نه پېژني او درک نه کړي، هیڅ کله به د ځان کمزورې برخې ځواکمنې او ځواکمني برخې لا ځواکمنې نه کړي. د دربیمې نړۍ د زیاترو ډیپلوماټانو د ناکامي اصلي او اساسي ټکي همدا دي، چې د هېواد له سیاسي، اقتصادي، کلتوري، نظامي او په ټوله کې له ستراتېژیکي جوړښتونو بې خبره دي. آن تر دې چې د وګړو له روحیاتو او افکارو او عمومي اطلاعاتو لا پردي دي.

ډیپلومات ته په کار ده چې د هېواد د سیاسي ادلون بدلون د کیفیت او کمیت په تړاو تازه مالومات ولري او په مختلیفو مسایلو کې د دولت له دریځه ځان خبر کړي، ترڅو له یادې لارې وکولای شي خپل دریځ د حقیقت او ربښتیا پر بنسټ ودروي.

که چېرې ډیپلومات د پورته کمزوریو لرونکی وي، طبیعي خبره ده چې د هېواد د ملي ګټو په تشخیص او ساتنه کې به کم ځواکه او ناتوانه وي.

### ۲٦- له ماموریتي هېواد سره بلدتیا:

ډیپلومات باید په دې پوه شي چې د فعالیتونو محصولات له کومې ځمکې په لاس راوړي. دی باید د ماموریتي هېواد په اړه بشپړ او کافي معلومات ترلاسه کړي، تر خپله وسه یې وپېژني او وروسته بیا په کار پیل وکړي.

هغه ضرور بايد د ياد هېواد ملي ګټې او موخې، په ځانګړې توګه هغه څه چې د هېواد په بهرني سياست کې يې تعقيبوي ترلاسه کړي او له هغو وسايلو او امکاناتو څخه ګټه پورته کړي، چې هېواد يې په واک کې ورکړي دي. همدارنګه د هغو امکاناتو په اړه هم وخت پر وخت مالومات ترلاسه کړي چې په مستقيم ډول د ياد هېواد د بهرني سياست په واک وي.

په ډيپلوماټيکي پروسه کې د ماموريتي هېواد په غوښتنو او کمښتونو پوهېدل ځانګړې ارزښت لري. ډيپلوماټ بايد هر وخت او هر ځای دا مسله له پامه و نه غورځوي.

د ماموريتي هېواد د سياسي، ټولنيزو، اقتصادي او نظامي ادارو او وګړو د پېژندنې ترڅنګ، ډيپلوماټ بايد د اړوند هېواد له عرف، رسمونو، رواجونو، تاريخ، جغرافيايي وضعيت او موقعيت او همدارنګه د عمومي اطلاعاتو په اړه کافي مطالعه ولري او په اړه يې مالومات ترلاسه کړي.

دی يوازې له دې لارې کولای شي چې کره او سم مالومات ترلاسه کړي او د دغو مالوماتو پر بنسټ يې ډيپلوماټيکي کړنې د منلو وړ بڼه خپلوي.

ډيپلوماټ بايد د ماموريتي هېواد د سياسيونو غوښتنې، کړنې او روحيات په غور وڅاري او تر څنګ يې د ياد هېواد ټولې پېښې تر څار او څېړنې لاندې ونيسي.

په کارونو او فعاليتونو کې دقت به نه يوازې د هېواد د ډيپلوماسي دستګاه ځواکمنه کړي، بلکې له دا ډول دقيقو نظرونو څخه به د هېواد نورې څانګې هم برخمنې شي.

**۲۷- لوړې زده کړې:**

ډيپلوماسي د دولتونو ترمنځ د اړيکو لارښود ته وايي. هغه وګړي چې په دې مسلک کې دنده پر مخ وړي، بايد د نړيوالو اړيکو په اړه پوره مالومات ولري او پر دغه برخه بشپړه برلاسي ولري.

د نړيوالو اړيکو پېژندنه علمي مقام لري چې د سياسي او اقتصادي علومو، ټولنپوهنې او اروا پوهنې له يوځای کېدو څخه منځ ته راځي.

په دې او يا دې ته په ورته څانګو کې زده کړه، وګړي په دې برلاسي کوي چې له يو لړ لارښوونو او پېژندنو سره بلد شي او خپل ذهن په مطلوب ډول منظم کړي.

په بل عبارت؛ د زده کړې او تحصيل دوره له داسې فرصتونو څخه شمېرل کېږي چې زده کوونکي د پوهانو او استادانو ګټورې تجربې تر څېړنې او مطالعې لاندې نيسي او له يادو تجربو څخه د زده کړې په بېلابېلو پړاونو کې د دولتونو ترمنځ اړيکې زده کوي.

هغو ډيپلوماټانو چې په پورته يادې شويو څانګو کې د زده کړې پړاونه نه وې بشپړ کړي، تل به په خپلو کارونو کې سرورکي او د نه پېژندنې له ستونزو سره لاس او ګرېوان وي، ځکه دا ډول وګړي په لازمه توګه د خپلې دندې له اصولو او سرچينو سره نابلد وي او د فکري نظم منځ ته راوړلو ځواک نه لري.

یوازې په پورته یادو شویو څانګو کې زده کړه او مطالعه نه شي کولای، یو ډيپلومات له نورو ځانګړتیاو پرته د بریالیتوب لوړو پوړیو ته ورسوي، بلکې هغه څه چې ارزښت لري، د دې آمر اړینوالی دی، نه بسنه.
ډېرى داسې کسان شته چې په یادو څانګو کې ښې لوړې زده کړې او پوهه لري، تحصیلي درجه یې هم په لوړ معیار برابره وي، خو له دې امله چې شخصیتي او مسلکي کمزورتیاوې او نیمګړتیاوې لري، نه شي کولای ګټور کسان ثابت شي.
د دې خلاف داسې وګړي هم شته، چې نه لوړې زده کړې او نه هم پراخه مطالعه لري، خو ژور سیاسي لیدلوري یې تحصیلي برخه تر خپل سیوري لاندې راوستې وي.

**۲۸- د نړیوال نوي نظام له ماهیت سره بلدتیا:**

ډيپلومات باید د خپل پراخ لیدلوري تر څنګ د نړیوال نوې نظام له ماهیت سره هم اشنا وي.
دی باید په بشپړه توګه د اوسني نظام د لوبو په نازکو ټکو خبر وي او په ځانګړي مهارت باید د دې لوبو پر محور برلاسي ولري.
په نړیوال نوي نظام کې نظامي برخې زیاته وده کړې او د دې نظام د اوسنۍ بنې زیاته برخه نظامي سیاست جوړوي.
په نړیوال نوي نظام کې ډيپلوماسي ته هم زیاته پاملرنه کېږي او د دې ارزښت او زور په دومره کچه دی چې پر نورو څانګو د لاربنوونکې رول لري.

په یاد نظام کې اقتصادي برخه هم له پامه نه ده لوېدلې. دا ابزار لـه داسـې مقام څخه برخمن دي چې نن ورځ یـې سـیاسي ځـواک هـم تـر خپـل اغېـز لاندې راوستی.

په بل عبارت؛ په نړیوال نـوي نظـام کـې اقتصـاد د بیـارغوونې د ماهیـت نـه بېلدونکې برخه ثابته شوې او د یوه هېـواد د ښـېرازي او غښـتلتیا راز هـم پـه اقتصادي برخه پسې تړلی ده. ځکه هر هغه ډیپلومـاټ چـې د خپـل هېـواد د سرلوړي په خاطر منډې وهي، باید له اقتصـادي علومـو سره اشـنايي ولـري، چې وکـولای شي پـه خپـل حسـاس او فعـال ګـډون سره یـاده موضـوع ښـه وڅاري او د هېواد د پرمختګ لامل يې وګرځي.

په ټوله کـې اقتصـاد د نـوي نړیـوال نظـام پښـې، نظـامي هغـه یـې بطـن او ډیپلوماسي یې د بدن پورتنۍ برخه ګڼل کېږي.

**۲۹- بهرنۍ ژبې:**

د ډیپلوماټ د دندې هېواد بهرنی وي، له داسـې وګـړو سره یـې سروکـار وي چې د ده په ژبه به نه پوهېږي؛ نو د ماموریتي هېواد په ژبه، کلتور او دودونـو باید وپوهېږي. چې له کومې ستونزې پرته د اړیکـو پـه ټینګولـو کـې مـخ پـر وړاندې ولاړ شي.

که ډیپلوماټ د اړوند هېواد د وګړو په ژبه و نه پـوهېږي، نـو د هغـو کسـانو د شمېر کچه به بېخي محدوده وي چې له ده سره په اړیکه کې دي.

لکه څنګه چې د انسانانو ترمنځ ژبه د اړیکو په ټینګښت کې پراخ لاس لـري، همدارنګه د هغوی ترمنځ د بې باوري په منځ ته راوړلو او له یوه او بـل څخـه یې په لېرې کولو کې هم لوی لاس درلودلای شي.

**۳۰- د وینا کولو هنر:**

زیاتره شنونکي ډیپلوماسي د وینا او خبرو کولو مترادف هنر ګڼي. د دوی په باور، هر هغه ډیپلومات چې ښه نطق او د وینا کولو ځواکمنه ژبه ولري، د سفر لار به یې تر ډېره له ستونزو خالي وي.

ځینې بیا وایي چې که وینا او د ډیپلومات د خبري ژبې ځواک د ډیپلوماسي له ارزښتناکو ابزارونو څخه و نه شمېرل شي، نو له ارزښتمنو سره ضرور په یوه کتار کې راځي.

په بله خبره؛ وینا د ډیپلوماټانو د دندې په ترسره کولو کې لویه او درنه وسیله ګڼل کېږي چې وخت ناوخت ورڅخه له ستونزو د خلاصون او بریالیتوبونو ته په رسېدو کې ور څخه ګټه اخلي.

ډیپلومات باید د خبرو کولو دا ماشین په خپل لاس کې ولري او د موضوع مطابق یې په داسې بڼه وکاروي چې د هېواد ګټې یې پکې خوندي وي.

د وینا او خبرو کولو مهارت د ډیپلوماټانو لپاره په هغومره کچه ارزښتمن دی چې که یې کوم یو و نه لري، د هېواد له ملي ګټو څخه د دفاع په موقع به له سختو زیاتو کړاونو سره مخ شي او مقابل لوري ته به د قانع کوونکي ځواب په لټه کې پاتې راشي.

د وینا کولو په وخت کې د ډیپلوماټانو ټولې ځانګړتیاوې کارول کېږي، خو په دې برخه کې هغه څه چې د زیاتې پاملرنې وړ او اړین دي؛ ډیپلوماټان باید

د وینا کولو په قوانینو او تاکتیکونو پوره بلد وي او په مقابل لوري د منلو په موخه تر حد زیاته هڅه او کوښښ وکړي.
ډیپلومات دې د وینا کولو د قانون ترڅنګ د ډیپلوماسي په ټولو قوانینو ځان پوه کړي، برلاسي دې پرې پیدا کړي او د مسیر ټاکلو لپاره دې ورڅخه ګټه پورته کړي؛ دا هغه څه دي چې د ځواکمن او بریالي ډیپلومات په وجود کې یې څرک له لېرې مالومېږي.
په یادو ټکو سربېره، د وینا کولو پر فن د ډیپلوماټانو برلاسي په هغومره اندازه د اهمیت وړ ده چې د دوی نورې نیمګړتیاوې لا له منځه وړي.
په بل عبارت؛ پر سکالو (موضوع) برلاسي د وینا بېخ ته بدلون ورکوي او د ډیپلوماټانو د زړورتوب لامل ګرځي، حتا که هر څومره کمځواکه هم وي.
پورته یاد شوي ټکي له داسې وسیلو څخه ګڼل کېږي چې باید د درېیمې نړۍ ډیپلوماټان ورڅخه په زیاته کچه ګټه پورته کړي، ترڅو ځان او هېواد د هرې ناستې په پای کې سرلوړی او سرفرازه وښيي.

**په ډیپلوماسي کې د لیکونو د لېږد رالېږد ارزښت:**

په ډیپلوماټیکي بهیر کې د لیکونو او پیغـامونو تبادلـه د دوو هېوادونـو اړیکـې لا ټینګوي او د ډیپلوماټیکي ابزارو له ډلې داسې ابزار دی، چې د یـوه هېـواد بهرنیو مناسباتو ته ارزښت ورکوي او مقام یې لوړوي، ځکه همدا د لیکونـو او پیغامونو تبادله د مسایلو د سالم حل لپاره مهمه وسیله شمېرل کېږي.

د هېوادونــو د خپلمنځــي مناســباتو لپــاره د دولتونــو د رئیســانو، حکــومتي چارواکیو، باندېنیو چارو وزیرانو او نورو رهبرانو د خبرو اترو او شخصيـ نظرنـو د ادلون بدلون بېلابېلې بڼې شته؛ خو د یادو شـویو بڼـو ترڅنـګ دولتونـه پـه ورځنیو چارو کې د ډیپلوماټیکي لیکونو له لېږد رالېږد څخه هم استفاده کـوي او له دې لارې دوه اړخیز او څو اړخیز مسایل روښـانوي، حـل کـوي او لاس ته راغلې پایلې یې مالوموي.

په ډیپلوماسي کـې د لیکونـو او پیغـامونو بېلابـېلي بڼـې شـته، چـې پـر غـوره انتخاب او پرځای کارولو یې باید دقیق فکر وکړای شي.

ډيپلوماټيکي ليکونه د هېوادونو په ادرس ليکل کېږي او د يـادو هېوادونـو پـه بهرني سياست پورې تړلې يوې ادارې يا هم استازي ته بايد راجع شي.

د ليک په جوړښت او وزن کې بايد د هېوادونو پرستيژ په پام کـې ونيـول شي او د متقابل درنښت او حقوقو د برابروالي اصل ته انعکاس ورکړل شي.

د ليک په موضوعاتو کې د بې ځايه کليمو راوړل او بې ادبه فورمـل بنـدي، د کليمـو وروسـته شـاته کارونـه او يـا هـم د سـيمه‌ييزو کليمـو اسـتعمال د ډيپلومـاسي ليکونـو او پيغـامونو لـه اصـولو خـلاف کړنـه شـمېرل کېـږي. همدارنګه په ليک کې دوه قلمي، په پنسل پاکي شوې کليمـې، د خيـرن او زوړ کاغذ کارونه، غلطه ژباړه او نورې نيمګړتياوې هم د ډيپلومـاټيکي ليکونـو په اصولو کې نه راځي او د ډيپلوماټيکي ادارو مقام او اعتبار ته سخت زيـان ور اړوي.

د ډيپلوماټيکي ليکونو او پيغامونو معيار، کيفيـت او رسـمي والي تـه بايـد ژوره پاملرنه وشي؛ ځکه همدا ليکونه کولای شي هېوادونه ښخي سره نږدې او يـا هم زيات سره لېرې کړي.

په ټوليزه توګه ويلای شو چـې د ډيپلومـاټيکي ليکونـو لېـږد رالېـږد د نړيوالـو سيستماټيکو تړونونو يوه برخه جوړوي.

**د ډيپلوماټيکي ليکونو اساسي ډولونه:**

په ډيپلوماسي کې ډيپلوماټيکي ليکونه لاندې اساسي ډولونه لري:

سرمونيال (Consular or Ceremonial)

کابينټ (Cabinet Note)

شخصي پيغام (Personal Message)

پاټېنټ (Patent)

شخصي لیک یا یادانښت (Personal Note Private Correspondence)

لاسي لیک یا یادانښت (Hand Written Note)

ویربال لیک (Note Verbal)

متحدالمال لیک (Circular)

ټولیز لیک (Collective Note)

**د لیکونو په ډله کې لاندې لیکونه هم کارونه لري:**

میموراندم (Memorandum)

ایډ میمو وایر (Aid Memo wire)

اعلامیه، تفسیر، پیغام، ګډه اعلامیه (Declaration)

مطبوعاتي اعلامیه (Media Interpretation)

دولتي ټلګرامونه (Government Telegrams)

**سرمونیال**

د دوو دولتونو ترمنځ سرمونیال لیکونه هغه وخت تبادله کېږي، چې د ډیپلوماسي اداري استازی (د استازولي مشر یانې لوی سفیر، فوق العاده استازی او یا هم د مختار وزیر سلاکار) په دنده وګماري او یا یې له دندې ګوښه کړي.

په دې سربېره، د دولتونو ترمنځ د هغو مالوماتو شریکول چې تشریفاتي او رسمي بڼه ولري، د سرمونیال لیک په واسطه شریکېږي.

دا ډول ليکونه په لوی او کيفيت لرونکي کاغذ کښل کېږي او د لېږونکـي او اخيستونکي په نومونو او بشپړو لقبونو پيلېږي. سرمونيـال ليکونـه پـر دولتـي مهر او لاسليک سربېره، په پريس شوې مهـر ټاپـه کېږي او د بهرنيـو چـارو وزير له خوا نښاني کېږي.

په ځانګړيو مراسيمو کې دغه ليکونه چاپي وي، خو پـه عـادي هغـو کـې پـه ښايسته لاسي خط ليکل کېږي.

**کابينټ:**

کابينټ ليکونه د دوو دولتونو او حکومتونو د رئيسـانو او د هېوادونـو د بانـدېنيو چارو وزيرانو له خوا د رسمي مالوماتو د لېږد په موخه کارول کېږي.

د دې ليـک تشر-يفاتي او رسـمي کرکټـر د سرمونيـال پـه پرتلـه کـم وي او موضوعات يې د يوې سياسي مسلې طرحـه، د ځـانګړي اسـتازي (ځـانګړي سفير) معرفي او يا هم د ډيپلوماټيکي اړيکو له پيـل وروسـته د لنـډې مـودې لپاره د استازي په ورپېژندلو کې کارول کېږي.

د کابينټ په مرسته يو دولت کولای شي چې د مقابـل هېـواد چـارواکيو تـه د رسمي راتګ او ورتګ بلنـه او خـبر ورکـړي او د ځينـو مقدسـو ورځـو مبـارکي ورکړي.

کابينټ ليک د لېږونکي په نښان سربېره، په دولتي مهر رسمي بڼه خپلوي.

دغه ليک چې د دولت او حکومت د رئيسانو له لوري استول کېږي، نـو ځکـه د بهرنيو چار وزارت نښانې ته اړتيا نشته.

**يادابښت (په لاس ليکل شوی ليک)**

په ډیپلوماټیکي بهیر کې د ګوتو په شمېر لیکونو په لاس لیکل کېږي. د لېږونکیو له لوري د ډېرې دا ډول لیکونو پیل او پایله یوازې په لاس کښل کېږي او پاتې برخه یې د ټایپ ماشین په وسیله لیکل کېږي.

په لاس لیکل شوی لیک تر ډېره د یوه کس شخصي- نظر څرګندوي او رسمي اغېز یې کم وي.

په لاس لیکل شوي یادانښت کې هغه مسایل راځي چې د ځینو زماني او مکاني ستونزو له امله په رسمي بڼه نه شي څرګندېدلای.

دا ډول مسایل چې معمولا شخصي بڼه لري، په لیک اخیستونکي ډېر بد اغېز کوي.

## شخصي پیغام

که یې بڼه په پام کې ونیول شي؛ نو شخصي- پیغام د دولت یا حکومت د رئیس له لوري لېږل کېږي. لومړی یې یو تن لیکلې برخه تیاروي او ورپسې د لېږونکي له لوري لاسلیک پرې کېږي.

معمولا دا ډول لیکونه سپین یا ساده وي او په هیڅ ډول دولتي مهر نه ښکلي کېږي.

دغه لیک په عمل کې د ډیپلوماټیکي لیکونو په لړ کې راځي او د بېړنیو مسایلو لکه دوه اړخیزو مناسباتو او نړیوالو قوانینو د وضع کولو لپاره کارول کېږی.

د هېوادونو په سياسي ژوند کې د ليک لېږونکي او ليک اخيستونکي د ستر مسووليت په خاطر د جوړښت او محتوا له اړخه دا پيغامونه په بشپړ ډول له شخصي يادابښت سره توپير لري.

**پاټينټ**

د پاټنټ ليک ډول له هغو ټولو ډيپلوماټيکي ليکونو څخه چې پورته ياد شول توپير لري. د دې ليک پته نامشخصه وي او له اصولو سره سم يې متن پټ ساتل کېږي. خپرېدا او افشا يې د هېوادونو د ډيپلوماټيکي اصولو خلاف کړنه شمېرل کېږي.

د دې ليک په محتوياتو کې د قونسلي استازي د گمارلو خبر، د ځينو اسنادو پخلي او کره‌والی او يا هم د ځانگړي ډيپلوماټ پېژندنه راځي.

پاټينټ ليک د هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو په لاسليک لېږل کېږي.

د مقابل هېواد په باندېني سياست پورې تړلې ادارې ته د داسې ليک سپارل معمولاً له ويربال يادابښت (ژبني يا شفاهي يادابښت) سره يو ځای ترسره کېږي.

قاعدتاً مقابل لوری هم ژر تر ژره د پاټينټ په ځواب کې قونسلي استازي ته پاټينټ استوي او د تر لاسه شوي ليک د محتوياتو د ارزونې تر څنگ په وررسېدلي پاټينټ کې د ياد شويو مسايلو د عملي کولو يا نه کولو په اړه مالومات ورکوي.

## شخصي ليک (شخصي يادانښت)

شخصي ليک يـا شخصيـ يادانښـت د ډيپلومـاټيکي پوسـټ کـارټونو لـه ډلـې ځخـه داسـې فـورم دی، چـې د هېوادونـو اسـتازي ورځخـه د مهمـو سـياسي مسايل د شريکولو په منظور ګټه اخـلي، ترڅـو لـه يـوه او بـل سره اړيـن او د ارزښت وړ سياسي مسايل شريک، توضيح او وڅېړي.

په عمومي توګه له شخصي يادانښت ځخه هغـه وخـت ګټـه اخيسـتل کېـږي چې ځينې کړنې او مسايل لېږونکي ته د زيات ارزښت وړ وي.

په شخصي يادانښتونو کې د کوربه هېواد رهبرانو او مشرانو ته په ځينو حـالاتو کې مبارکي او مننديي او په غم او ويـر کـې لـه هغـوی سره د همـدردي پـه موخه هم کارول کېږي.

د دې ترځنګ د ډيپلوماټيکي ليکونو په دې فورم کې هغه ليکونـه هـم راځـي چې په يوه هېواد کې د نوې استازولۍ له تاسيس وروسته د يـادې اسـتازولۍ رئيس يې په اړوند هېواد کې د نورو استازوليو رئيسانو تـه لېـږي. دا ليکونـه د شخصي ليک تر چتر لاندې د اعتماد ليک په نوم يادېږي.

### د ډيپلوماټيکي پوسټکارټونو معمولي برخې:

- خطابيه
- لقبونه
- تعارفات

- لاسلیک

- نېټه

- د یاداښت پټه

- د پاکټ په شا پټه

د خطابیې بڼه له سیمه‌ییز تعامل سره سمه غوره کېږي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت په ډیپلوماټیکي لیکونو کې د هېوادنو شخصیتونو ته د جلالتماب په کلیمې خطاب کېږي او د لیک اخیستونکي د دندې په نوم پیلېږي.

لکه جلالتماب ښاغلی رئیس، وزیر، معین او داسې نور.

په ډېری هېوادنو کې د وزیرانو شورا یا د یوې بلې ورته شورا د رئیس مرستیال ته جلالتماب رئیس او د وزیر مرستیال (معین) ته د جلالتماب وزیر خطاب کېږي.

د ډیپلوماټیکي استازولۍ رئیس ته بیا د ښاغلي جلالتماب سفیر، مختار وزیر او دې ته ورته نورې خطابیې کارول کېږي.

## ډیپلوماټیکي جامې

### نارینه جامې

ډیپلوماټکي جامې هغه وخت مناسبې دي، چې له ډیپلوماټیکي مراسیمو، د کال له موسم، ځای او زمان سره مطابقت ولري. د وګړي عمر او اندام په پام کې ونیول شي او له یوې او بلې برخې سره همغږي ولري. ډیپلوماټان باید د جامو په اغوستلو کې له کوم شرط او قید پرته ځان د ماموریتي هېواد له رسم او کلتور سره برابر او عادت کړي.

په ډیپلوماټیکي ژوند کې د نارینه‌وو جامې تر ډېره د ورځنې موډ تر اغېز لاندې راځي او ډیپلوماټ باید د ورځې له موډ سره سم په جامو کې بدلون راولي.

له دوه رنګه کورتۍ او پتلون څخه په لومړي ګام کې په مسافري او غیر رسمي وخت کې استفاده کېږي او په رسمي توګه په ډیپلوماټیکي پراټیک کې دا رنګه جامې نه کارول کېږي. د درېشي دغه بڼه د نارسمي وخت لپاره هغه جامه ده، چې په عادي ورځو کې اغوستل کېږي او ډیپلوماټ کولای شي چې دا درېشي له یو خطه یا څو خطه رخت څخه جوړه کړي.

په اوس وخت کې په ډیپلوماټیکي پراټیک کې هغه دریشیاني چې د رنګ له پلوه تکراري وي، په هغو مراسیمو کې اغوستل کېږي چې له تشریفاتي پلوه یې ګراف کم وي.

د ورځې په مخ هغه دریشي- تقریبا په ټولو رسمي مراسیمو کې اغوستل کېږي چې زیاته روښانه نه وي. په رسمي، تشریفاتي او کوچنیو مراسیمو او لیدنو، د ډوډۍ خوړلو د بلنې او هوکړه لیکونو د لاسلیک کولو په وخت کې بیا خپه، فولادي او یا هم د رانجو رنګ ته ورته دریشي- زیاته معمول ده. همدارنګه د شپې په مخه په رسمي مراسیمو لکه تیاتر، کنسرټ او کوچنیو بلنو کې هم خپه دریشي ډېره عامه ده.

له تورې دریشي څخه بیا د ویر او غم (جنازه، فاتحه او دې ته ورته) په مراسیمو کې کار اخیستل کېږي.

په زیاترو هېوادونو کې د شپې په مخه په رسمي غونډو (رسمي بلنه، د ډوډۍ خوړولو رسمي بلنه، تیاتر، کنسرټ او...) کې له تورې دریشي سره یو ځای نیکټایي استعمالېږي او همدا شان د ورځې په مخ هم دا دریشي- د ځینو مراسیمو او جشنونو لپاره غوره او مناسبه دریشي بلل کېږي.

**ښځینه جامې**

څنګه چې ښځینه جامې د نارینه هغو په پرتله توپیر لري، غوره کول او خوښول یې هم زیات دقت غواړي.

د جامو رنګ، جنسیت، کچه او کیفیت د ښځینه ډیپلوماټې په قد او اندام، عمر او د ورځې په موډ پسې اړه لري.

هغه جامې چې د وخت په تېرېدو او د موډ له بدلون سره سره خپل اصليت وساتي، غوره او د کار جامې يې بللای شو. د دا ډول جامو بېلګه، ساده کميس، خپ جاکټ او ورسره ځينې اضافي برخې (ټيکرى، د غاړې مول او...) يادولای شو.

د تفريح او فارغ وخت لپاره بيا زياتې ساده جامې کارول کېږي. اکثره يې سپورټي بڼه لري او رخت يې د کال له موسم او د محيط له حرارت سره سم انتخابېږي.

د ماسپښين مهال لپاره هغه جامې چې د منلو وړ او ښکلی رنګ ولري او په ښايسته بڼه ګنډل شوې وي، غوره بلل کېږي.

دا ډول جامې زيات وخت په کوچنيو رسمي ليدنو او مراسيمو کې کارول کېږي، په هغه ځای کې چې نارينه تور رنګه جامو ته لومړيتوب ورکوي.

د ښځينه ډيپلوماټانو زياتره جاکټونه له خپ او تور رنګي رخت څخه جوړېږي. که څه هم په موډ کې بايد زيات غور وشي، خو داسې موډ دې انتخاب شي چې د وخت په تېرېدو سره بيا هم د ورځې موډ وي او له ګټې اخيستنې و نه لوېږي. له دا ډول جاکټونو څخه د شپې تر ناوخته پورې د زياتو رسمي ليدنو او مراسيمو (رسمي ليدنو، د ډوډۍ خوړولو بلنې، تياتر او کنسرټونو) مراسيمو لپاره کارول کېږي.

کوک سټايل؛ د ښه، با کيفيته او لوړ جنس لرونکي، رسمي او تشريفاتي جامې دي. دا جامې په هغو غونډو او مراسيمو کې ښځينه ډيپلوماټانې اغوندي چې د ماسپښينې مهال لپاره مناسبې او غوره جامې نه وي.

همدارنګه د ځينو مراسيمو لپاره د شپنيو جامو په نشتون کې له دا ډول جامو څخه ګټه اخيستل کېږي.
ښځينه اوږدې جامې د ځينو ځانګړو رسمي غونډو او مراسيمو (ملي ورځو، د هېوادونو د رهبرانو رسمي سفرونو په اړه د بلنو) او په ځينو ځانګړو کنسرټونو کې کارول کېږي.

پای

Download from:aghalibrary